## Sparghay/ Sporghai Magazine (Organ of "سپرغۍ"
General Union of Afghan Student /Germany -Frankfurt a.M)

"سپرغۍ" په بهر کښې د افغاني پوهېدونکو/ زده کړیالانو
کال د1972 (محصلینو) خپرونه وه, چې لومړۍ ګڼه یې د
جولایي په میاشت کښې په 20 مخونو کښې د (ډېن ای 5 په
کچ) په سپین کاغذ خپره شوې ده.
د سپرغۍ دویمه ګڼه راسره نه شته.

دریېمه ګڼه یې په سنبله 1356 کال کښې څلورمه او پینځمه
ګڼه یې هم راسره نه شته

په 1975 کال کښې یې شپږمه ګڼه په 24 مخونو کښې په
سپین کاغذ د اتریش د ویانا له ښار څخه (د ډېنا ای 4 په
کچ) خپره شوېده

1976 د مۍ میاشت کې یې 7مه
ګڼه بې له پوښتۍ په 26 مخونو کښې (د ډېنا ای 5 په کچ) چاپ شوېده

1976 کال ډسمبر کښې یې 8 مه ګڼه بې له پوښتۍ په 32
مخونو کښې (د ډېنا ای 4 په کچ) چاپ شوېده

1978 اپریل کښې یې 9 مه ګڼه بې له پوښتۍ په 40 مخونو
کښې د ډین ای 5 په کچ چاپ شوېده

او په 1978 کال ډسمبر کښې یې لسمه ګڼه بې له پوښتې
مخونو کښې چاپ شوېده. DIN A5 په 30

د سپرغۍ پته : د سپرغۍ پتې (ادرسونه) په بیلابیلو وختونو کښې , فرانکفورت, برلین, بن, مونستر او کولن ښارونه ورکړل شویدي, چې د هرې ګڼې د سرلیکونو سره د پوښتې پر شا یې پتې لیکل شوي دي.

---

یادونه: کېدای شي, چې د "سپرغۍ" نورې ګڼې هم چاپ شوي وي. ما د (ستوري کتابتون) کښې همدا څو ګڼې وموندلې .

په درنښت
نصیر ستورى Nasir Stori
جرمني: ویسلینګ ښار
18.06.2024
29غبرګولی 1403

---

Walas Ghag Magazine
(Organ of National Liberation Union of Pashtoons and Baluchs in Frankfurt/ a.M)
"لس غز"

"ولس غز" او "لمبه" د پښتنو

بلوڅو د ملي ازادۍ ټولنې خپرونې

"ولس غږ" او "لمبه" د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ ټولنې د خپرونې دي.

د "ولس غږ لومړۍ ګڼه په 1977 ع کال د نوامبر په میاشت کښې بې له پوښتې په 68 مخونو کښې ( د ډین ای5په کچ) چاپ شوېده

د ولس غږ موخې او غوښتنې د "ولس غږ" مجلې پر پوښتې لیکل شوي دي

د " ولس غږ" دوییمه ګڼه د 1979 کال د مۍ په میاشت کښې بې له پوښتې په 51 مخونو کښې په ډینا 5 کچ په سپین کاغذ چاپ شوېده

د " ولس غږ" دریيه ګڼه په 1980 کال ډسمبر میاشت کښې په سپین
کاغذ په 39 مخونو کښې ( ډینا 4 په کچ) خپره شوېده

یادونه: کېدای شي, چې د " ولس غږ " نورې ګڼې هم چاپ شوي وي. ما د (ستوري کتابتون) کښې همدا څو ګڼې موندلې. په درښت

نصیر ستورۍ Nasir Stori
جرمني: ویسلینګ ښار

18.06.2024
29غبرګولی 1403

---

# Lamba Monthly Magazine "لمبه"

(Organ of National Liberation Union of Pashtoons and Baluchs in Frankfurt/ a.M)

د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادی د ټولنې خپرونه "لمبه " په ورکوټې اخباري بڼه DIN A4 په کچ په سپین کاغذ په څلورو مخونو کښې هره میاشت خپریدله.
لومړی ګڼه یا لومړۍ میاشتینۍ خپرونه یې د 1980 کال د جون په میاشت کښې تیت/خپره کړه.

په " لمبه "کښې ځینې لیکوالانو په بدلو نومونو (مستعارو نومونو) لیکنې کړي دي.

د"لمبې" پته د لمبې په4م مخ کښې لیکل شوې ده

یادونه: کېدای شي, چې د "لمبه " نورې ګڼې هم چاپ شوي وي.
ما د (ستوري کتابتون) کښې همدا څو ګڼې وموندلې .
په درنښت
نصیر ستوری Nasir Stori
جرمني: ویسلینګ ښار

18.06.2024
29غبرګولی 1403

---

## Pir Rokhan/pir roshan "پیر روښان"

(Chief Editers Advocate Ali Khan Maseed (Mahsood) and Dr.Jalaludin Khan)

د پیر روښان مجله د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند مشر قانونپوه علي خان محسود ( مسيد) او د ګوند د مشرانو جرګې غړي ډاکتر جلال الدين د "خاورين مخاورين" په بدلو نومونو (مستعار نومونو) چلوله.

د " پیر روښان" لومړۍ ګڼه په د 1988 کال د مې په مياشت کښېې د DIN A5 په کچ په سپين کاغذ د مجلې په بڼه په 8 مخونو کښېې چاپ شوېده

د " پیر روښان" دويمه ګڼه د اګست مياشت 1988 کښېې په DIN A4 کاغذ پر 8 مخونو کښېې چاپ شوېده

د " پیر روښان" 3 مه ګڼه د نوامبر مياشت 1988 کښېې په (DIN A4) په کچ په سپين کاغذ پر 14 مخونو کښېې چاپ شوېده

ځلورمه ګڼه یې نه لرم, پینځمه ګڼه یې (د DIN A5 په کچ) د
مجلې په بڼه په سپین کاغذ په 28 مخونو کښې خپره شوېده

شپږمه ګڼه یې نه لرم, 7 مه ګڼه یې د DIN A5 په کچه د
مجلې په بڼه په سپین کاغذ په 38 مخونو کښې خپره شوېده

په کال 1991 جنورۍ کښې د باچا خان ځانګړې ګڼه په 26
مخونو(د DIN A5 په کچ) د مجلې په بڼه خپره شوېده.

او په جنورۍ 1992 کښې یې د پیرروښان ځانګړې ګڼې د (د
DIN A5 په کچ) مجلې په بڼه په 29 مخونو کښې خپره
شوېده

یادونه: کېدای شي, چې د "پیر روښان" نورې ګڼې هم چاپ
شوي وي. ما د (ستوري کتابتون) کښې همدا څو ګڼې
موندلې . په درنښت
نصیر ستوری Nasir Stori
جرمني: ویسلینګ ښار
18.06.2024
29غبرګولی 1403

---

"د خیبر وږمه " Khyber Wagma

د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې د ملګرو له خوا " د
خیبر وږمه" پښتو او د خیبر وږمه الماني د "Khyber" تر نامه
لاندې په مونشن ښار کښې د پښتونستان او بلوچستان
کومیټې د (DIN A5 په کچ) د مجلې په بڼه په 14 مخونو کښې په
سپین کاغذ خپروله

د " خیبر وږمه " څلورمه ګڼه په 1975 کال اګست کښې خپره
شویده.

شپږمه ګڼه یې په 1975 اکتوبر کښې خپره شوې

د خیبر وږمې الماني خپرونه هم په DIN A5 کچ د مجلې په بڼه په
14 مخونو کښې په
سپین کاغذ چاپ شوي دي.

لومړنۍ الماني ګڼه یې په 1975 کال د مۍ په میاشت کښې او
تر نومبر 1975 پورې یې 7 ګڼې چاپ شویده

د خیبر وږمې او Khyber پته د"خیبر وږمې" او "خیبر" پر
پوښتې هم لیکل شوي دي

يادونه: کېدای شي, چې د " خيبر وږمې " او Khyber نورې ګڼې هم چاپ شوي وي. ما د (ستوري کتابتون) کښې همداګڼې ومونډلې .

په درنښت

نصير ستوری Nasir Stori

جرمني: ويسلينګ ښار

18.06.2024

29غبرګولی 1403

---

" پښتون رساله" په جرمني کښې

Pakhtun Magazine in  Germany

Founder: Bacha Khan

---

د « پښتون رسالې» د بنسټ اېښودونکي (باني) فخرافغان باچاخان بابا په غوښتنه او د پښتنو تولنيز ولسوليز ګوندPSDP د مشر ډاکتر کبير ستوري په لارښونه د پښتون سوشل ديموکراټيک پارټۍ(PSDP) د خپرونو څانګې په المان کې د پښتون رسالې خپرولو ته ملا وتړله

په 1981 ع کال کې ئې يوه ګڼه په الماني ژبه په DIN A4 کچه په 8 مخونو کښې په سپين کاغذ چاپ او خپره کړه.

په (1982 ع کال) د مارچ په میاشت کې ئې لمړنۍ ګڼه ، چې اخباري بڼه ئې لرله په DIN A4 کچه په 4 مخونو کښې په سپین کاغذ چاپ او تیته شوه.

په کال 1982 ډسمبر کښې چې ډاکتر کبیر ستوری پښتونخوا ته د خپلوانو او سیاسي مشرانو لیدلو لپاره راغی، نو د ضیاالحق د پوځي رژیم له خوا د پاکستان د ماتېدو او سیاسي فعالیت په پلمه ونیول شو، چې پدغه وخت کښې ضیاالحق رژیم د" پښتون رساله" چې په جرمنی کې چاپیدله او خپرېدله هم د قابل اعتراض موادوپه پلمه ضبط کړه.

کله چې ډاکتر کبیر ستوری د ضیاالحق پوځي رژیم له تور زندان راخلاص شو او جرمنی ته راغی، نو د پښتون رسالې د چاپ لړۍ یې بیا پیل کړه او په 1984ع د اګست میاشت کښې د پښتون رسالې (مجلې) دویمه ګڼه په DIN A4 کچه په سپین کاغذ په 4 مخونو کښې چاپ شوه

په 1985 ع کال په فروری کې ئې دریېمه ګڼه

په 1986ع کال جنورۍ کې ئې 4مه ګڼه, چې بشپړه اخباري بڼه یې لرله په څلورو مخونو کښې چاپ شوه

5مه ګڼه يې هم بشپړه اخباري په 4 مخونو کښې چاپ شوه
په 1987ع کال نوامبر میاشت کې ئې 6 مه ګڼه د DIN A4 په کچ
په سپین کاغذ چاپ او تیت (خپره) شوه

او په 1989ع کال فرورۍ میاشت کې ئې 7 مه ګڼه د DIN A4
په کچ په سپین کاغذ چاپ شوه.

په 1990ع کال جنورۍ کې ئې 8 مه ګڼه د DIN A4 په کچ په
سپین کاغذ خپره شوه.

یادونه: د " پښتون رسالې " نهمه او لسمه ګڼه مې د (ستوري
کتابتون) کښې ونه موندله
یولسمه ګڼه یې په 1995 کال د جنورۍ په میاشت کې د DIN
A4 په کچ په سپین کاغذ خپره شوه

د پښتنو تولنیز ولسولیز ګوند
(de Pakhtanu tolaniz Walaswaliz gund -PSDP) د"پښتون رسالې" خپرولو
لړۍ وغزوله او د 1995 ع کال تر جنورۍ ئې تر یولسمې
ګڼې پورې هم خپره شوه, چې په دې سره ئې دخپلې ګوندی
مجلې " پښتونخوا Pashtoonkhwa " تر څنګ د باچا خان د پښتون
رسالې توغ (جنډا/ بیرغ) هم اوچت وساته او د باچا خان

بابا د عدم تشدد د نظرئې په عاملو او خپرولو کښې پوره ونډه ولرله.

د "پښتون رسالې" خپرونکی او زمه وار
Hrsg. Und Verantwortlich: Sozialdemokratische Partei der Pashtunen
{Pashtoon Social Democratic Party PSDP}

دخپرونې جرګه او کتونکې ډله
Editorial Bord:
Mohammad Shirin Gerdeawal
Ali Khan Mahsood (Maseed)
Aziz Sarshar
Nasir Stori

په درنښت
Nasir Stori نصیر ستوری
جرمني: ویسلینګ ښار
18.06.2024
29غبرګولی 1403

---

" پښتونخوا "
Pakhtunkhwa  Pashtoonkhwa Paschtunkhwa

"پښتونخوا" د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند PSDP  خپرونه ده, چې  لومړی ګڼه یې په 1987 ع کال کښې د DIN A5 په کچه په 100 مخونو کښې په سپین کاغذ په پښتو, جرمني او انګریزي ژبو چاپ او خپره شوه.

د لومړۍ ګڼې پښتو برخه 52 مخونه, د جرمني برخه 17 مخونه او د انګرېزي برخه يې 21 مخونه لري .

یادونه : د "پښتونخوا" تولې ګڼې د DIN A5 په کچه په سپين کاغذ چاپ او خپرې شوي

2 مه ګڼه اپريل 1988 (38 مخونه)
3مه ګڼه اګست 1988 (39 مخونه)
4 مه ګڼه جنوري 1989 (35مخونه)
5 مه ګڼه اپريل 1989 (31 مخونه)
6 مه ګڼه نومبر 1989 (27 مخونه)
7 مه ګڼه اګست 1990 (31 مخونه)
8 مه ګڼه ډسمبر 1990 (35مخونه)
9 مه ګڼه اپريل 1991 (35 مخونه)
10مه ګڼه مارچ 1992 (43 مخونه)
11 مه ګڼه نومبر 199 (38 مخونه)
12مه ګڼه اګست 1993 (39 مخونه)

د " پښتونخوا " ځانګړې ګڼه د پښتنو د يووالي د ورځې په وياړ 12نوامبر 1993(51 مخونه)

13 مه ګڼه اګست 1994 (27 مخونه)
14 مه ګڼه اکتوبر 1994(27 مخونه)
15 مه ګڼه جون 1995 (36مخونه)
16مه ګڼه اګست 1995 (32مخونه) 17 مه ګڼه 1996 (28 مخونه)
18 مه ګڼه 1997 (32 مخونه)
19 مه ګڼه 1998 (32 مخونه)
20 مه ګڼه 1999 (36 مخونه)
21 مه ګڼه 2000 (36 مخونه)
22/23 مه ګڼه 2001/2002 (40مخونه)
24/25 مه ګڼه 2003/2004 (44 مخونه)

26 مه ګڼه 2005 (60 مخونه)
27 مه ګڼه 2005 (60 مخونه)
28 مه ګڼه 2006 (60 مخونه)
29 مه ګڼه 2007 (83مخونه)
30 مه ګڼه 2007 (60مخونه)

--------

د پښتنو تولنیز ولسولیز ګوند د " پښتونخوا " د دېرشمې ګڼې وروسته پر انټرنېټي جال کښېي www.pashtoonkhwa.com وېبپاڼې پرمټ په پښتو، انګرېزي او الماني خپرونې کوي.

——————


د پښتونخوا د خپرونې جرګه

علي خان محسود
هدایت بنګش
ډاکتر شاه جهان
عبدالحبیب ستومان
ګل غوټۍ کونړی
مبارز خاپې
عزیز سرشار
نصیر ستوری

Editorial Board

Ali Khan Mahsood
Hidayat Bangash
Abdul Habib Stoman
Gulghutai Kunarai

Mabariz Zapi
Aziz Sarshar
Nasir Stori

---

(Pashtoonkhwa M  Magazine, Germany)
Herausgerer: Sozlaldemokratische Partei der Paschtunen
Paschtoonchwa / Afghanistan
Publisher: Pashtoon Social Democratic Party (PSDP)
Pashtoonkhwa / Afghanistan

V. S. I. P.
RESPONSIBLE FOR CONTENTS

DR. KABIR STORI
Kiebitzweg 12
50389 WESSELNG
GERMANY
Tel.: 0049 2236 841930

---

ليکونکی  : نصير ستوری
Nasir Stori
Marianne-Andras-Weg 12
50389 Wesseling-Germany
Mob./Handy:004916213562O2
Nasir Stori نصير ستوری
جرمني: ويسلينګ ښار
18.06.2024
29غبرګولی 1403